# ديـني لاربنوونه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ليکنه اوترتيب: فهيم الله

بسمـ الله الرحمن الرحيم

**السلام عليکم قدرمنو لوستونکو!**

**دغه کتاب چې په ډېر آسانه او عام فهمه ژبه راټول شوی کولی شي ستاسو په علم کې په ډېر کم وخت کې ډېر زيات معلومات اضافه کړي دا چې ژوند ډېر لنډ دي او د مرګ هيڅ پته نه لګي نو بايد چې مونږ اوتاسو خپل ژوند کې کوښښ وکړو چې نيک اعمال زيات کړوخپل ژوند دالله جل جلاله او دالله جل جلاله د رسول صلی الله عليه وسلم په اطاعت کې تېر کړو او هېڅ کله دالله جل جلاله او دالله جل جلاله درسول صلی الله عليه وسلم نافرماني ونه کړو.**

**زه دغه کتاب ټولو هغه ملګرو او دوستانو ته ډالۍ کووم چې د کتاب سره اشنايي لري او د تر پايه لوستلو دعا ورته له خپل رب څخه غواړم.**

**يادونه: د دغه کتاب ليکنې اکثره د ځينو معتبرو اسلامي کتابونو لکه (رياض الصالحين) څخه راخيستل شوي او کوښښ شوی چې د بېلابېلو کتابونو څخه مهم موضوعات راټول او ستاسو خدمت ته وړاندې شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موضوع: د ډېر سلام اچولو ګټه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي تاسو جنت ته ننوتلي نشي ترڅو چې مومنان نشي اوتاسو مومنان نشي کیدي ترڅو چې یوبل سره محبت او مینه ونکړي ایا تاسو ته یو داسي عمل وښایم چې هغه کله وکړي نو ستاسو مینځ کې محبت پیداشي هغه په یوبل باندي سلام اچول دي.

**صحیح النسائی[٢٧۴/١]**

د عمار بن یاسر رضی الله عنه وینا مبارکه ده دري شیان او صفات دي چا کې چې دا راغلل نو ګویا هغه ایمان حاصل کړ:

(١)خپل ځان سره انصاف کول

(٢)خلکو باندي ډېر سلام اچول

(٣)د غریبي سره سره الله جل جلاله لاره کې خرچه کول

**[مسلم حدیث/۵۴]**

عبد الله بن عمرو رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوکس راغلو او پوښتنه یي وکړه چې کوم عمل ټولونه بهتره او افضله دي؟نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ټولو نه بهتره عمل دا دي چې خلکو باندي خوارک کول او سلام اچول په چا چې پیژني یا یي نه پیژني:

**[صحیح البخاری قبل الحدیث/٢٨موقف معلق]**

- **اخلاق**

حضرت ابو ثعلبه رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چې د قیامت په ورځ به ماته ټولونه عزیز اومحبوب اونزدي خلک هغه وي کوم چې تاسونه زیات خوش اخلاقه وي او د ټولو نه زیات لري اوبدترین خلک به هغه وي کوم چې بد اخلاقه وي. (مشکوات)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې دقیامت په ورځ به د مؤمن په ترازو کې د ښه اخلاقو نه زیات دروند هېڅ څیز نه وي.(ابوداؤد)

## دینی لاربښونه ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ۲

د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله عیله وسلم اوفرمائیل چې په تاسو ټولوکې ماته زیات محبوب او دقیامت په ورځ ماته د ټولو نه نزدې هغه خلک وي د چاچې اخلاق زیات ښه وي.(ترمذي)

د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چې ښه اخلاق د الله جل جلاله د رحمت رسۍ ده چې د یو انسان په پوزه کې وي او دویم طرف یی د فرشتې په لاس کې وي چې هغه فرشتې دغه کس د خیر طرف ته راکاږي او خیر یي جنت بوځي او بد اخلاقي د عذاب رسۍ ده چې د یوکس په پوزه کې وي او دویم طرف یي د شیطان په لاس کې وي چې هغه دغه کس شر طرف ته راکاږي او شر یي دوزخ ته بوځي.(تنبیه الغافلین)

د حضرت عائشة رضی الله عنها نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې مسلمان د ښو اخلاقو په وجه د هغه سړي درجه حاصلوي څوک چې ټوله شپه عبادت کوي او د ورځې ټوله ورځ روژه وي.(ابودؤد)

د حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم لس کاله خدمت وکړو او په دې دومره موده کې یی ماته أُف قدر هم نه دي ویلي او نه یي راته دا فرمائیلي دي چې دا فلانۍ کار دي ولې نه دي کړي او نه یی راته دا فرمائیلي دي چې دا فلانۍ کاردي ولې کړي دي.(بخاري او مسلم)

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اعتبار د اخلاقو سره د ټولو خلکو نه غوره ؤو.

(بُخاري اومُسلم)

حضرت نواس بن سمعان رضی الله عنه نه روایت دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د نېکۍ او بدي په باره کې پوښتنه وکړه نو وي فرمایل،چې نېکۍ ښه اخلاق دي او ګناه هغه ده،چې د هغي نه دي په زړه کې خطره پیداشي او تا ته ښه نه ښکاري،چې د هغي نه دي خلک خبر شي.

(مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمائيل،په مسلمانانوکې د ټولونه زيات د پوره ايمان خاوند هغه کس دي چې د چا اخلاق ډېر ښه وي او تاسو کې د صفت قابل هغه کس دي،چې د چا خپلو ښځو سره سلوک ښه وي.

## دينی لارښونه

۳

(ترمذی)امام ترمذی رح وايي،چې دا حديث حسن صحيح دي.

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايی چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي اوريدلي دي چې مؤمن بنده د خپلو ښو اخلاقو په ذريعه د پرله پسي هميشه روژه نيونکي عبادت کونکي نه زياته درجه حصلوي شې.

(ابوداود)

حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړاي شوه،جنت ته په کومو څيزونوسره زيات خلک داخليږي نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمائيل،چې د الله تعالیٰ نه ويري او ښو اخلاقو سره او دا پوښتنه تري وکړاي شوه چې اورته په کومو څيزونو سره کوم زيات خلک داخليږي نو نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل،چې د خولي او دعورت په وجه.(ترمذی)

ترمذي رح وايي چې دا حديث حسن صحيح دي.

حضرت عبدالله بن عمروبن عاص رضی الله عنهم وايي چې رسول الله صلی عليه وسلم به قصداً او په خطا دواړو سره څه بده خبره د خولي نه ويستله او نه به يي خوښوله نبی کريم صلی الله عليه وسلم به فرمايل تاسو کې ښه بنيادم هغه دي چې د هغه اخلاق ښه وي.

(بخاری اومسلم)

الله جل جلاله دي مونږ ته توفيق راکړي چې بد اخلاقي له ځانه اوباسو او ښه اخلاق په ځان کې پيداکړو اوالله جل جلاله دي مونږ د نېکو اخلاقو خاوندان جوړکړي چې په دنيا کې د غمونواو لانجو نه بچ ژوند تېر کړو او په اخرت کې جنت ته لاړشو.

امين.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **تکبر**

د حضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هغه کس به جنت نه ځي د چا په زړه کې چې د زري برابر هم تکبر وي.

(مسلم)



حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل،چې د چا په زړه کي لږ هم کبر وي،هغه به جنت ته نه داخلیږي بیا یوکس پوښتنه وکړه چې یو سړي دا غواړي،چې لباس یي ښه وي او پیزار یي ښه وي ایا دا هم تکبر کي داخل دي)؟نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل،الله تعالی خایسته دي اوخایسته والی اوپاکوالي خوښوي او دا کبر نه دي کبر دي ته وایي چې د ځان لویي ګڼړو په وجه د حق نه انکار وکړي او نور خلک سپک او ذلیل ګڼړي.

(مسلم)

(یعني حق نه منل او حق ویونکي خلک سپک ګڼل)

رسول الله صلی الله عیله وسلم فرمایلي دي چې دري اشخاص داسي دي چې الله جل جلاله به د قیامت په ورځ له هغوي سره خبري نه کوي او رحمت په نظر به ورته نه ګوري او هغوي لپاره دردناک غذاب دي ۱ـ زناکار بوډا ۲ـ ظالم باچا ۳سرکش متکبر.

(مکاشف القلوب)

حضرت حارثه بن وهب رضی الله عنه نه روایت دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه داسي فرمایل اوریدلي دي چې زه تاسو ته ښایم،چې دوزخ کي به کوم کسان وي هلته به ټول سرکشه،شومان او کبرجن خلک وي.

(بخاری اومسلم)

د حضرت ابوذر رضی الله عنه روایت دي چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په موجودګي کې یو سړي سره تیزي خبري وکړي او هغه ته مي اوویل ای د خبشي زویه،رسول الله صلی الله علیه وسلم زما دا خبره واوریدله نو راته یي وفرمایل ای ابوذره هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپين څرمن والاته په تور څرمن والا فضليت نشته،حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي چې
د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغو خبرو په اوريدلو سره زه په زمکه وغور ځېدمه
او هغه سړي ته مي وويل پاڅه او زما په مخ خپي کيږده.

(مکاشفة القلوب)

حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل،
چې دري قسمه خلکو سره به د قيامت په ورځ الله تعالی نه خبري او نه به د گناهونو نه
پاکوي او نه به ورته د رحمت په نظر گوري -

## ديني لاربښونه ـــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ ۵

۱ـ بوډا زنا کونکي ۲ـ دروغجن باد شاه ۳ـ کبرجن غريب.

(مسلم)

دا رويت هم د حضرت ابوهريره رضی الله عنه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم
وفرمايل،الله تعالی فرمايلي دي،چې عزت زما لنګ او لويي زما څادر دي د دي دواړو په
باره کې چې څوک ماسره جګړه کوي نو زه به هغه کس په عذاب کې اخته کړم.

(مسلم)

د حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه نه روايت چې رسول الله صلی الله عليه
وفرمايل،چې سړي ځان لوي ګڼړي،تر دي پوري چې هغه به په سرکشانو کې وشميرل شې
نو هغه څه ورته ورسي،کوم چې دغي سرکشو ته ورسيدل. ( ترمذ)

امام ترمذی وايي دا حديث حسن دي.

په بنی اسرائيلو يو کس و چې د هغه زياتو ګناهونو په وجه هغه ته د بنی اسرائيلو خليع ويل
کيدو چې معنی يی داده(په خپلو ګناهونوسره د بنی اسرائيلو عاجزونکي)يوځل هغه په يو
داسي انسان تير شو چې د بنی اسرائيلوعابد و د هغه په سربه وريځو سيوري کوو کله چې
هغه ګنهګار عابد وليده نو په زړه کې دا خبره راغله چې زه د بنی اسرائيلو بدترين انسان يم
او دا بنی اسرائيلو لوي عابد دي که چرته زه له هغه سره کينم شايد الله جل جلاله په ما رحم
وکړي هغه د عابد په خوا کې کيناسته د عابد په زړه کې دا خيال راغي چې زه د بنی
اسرائيلو عابد يم او دا د بنی اسرائيلو بدبخت ترين سړي دي دا څنګه له ما سره يو ځاي
کيناستيدي شي هغه ته شرم ښکاره شو او هغه ته يي وويل چې له دي ځاي نه پاڅه په دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې الله جل جلاله د بنی اسرائیلو د هغه وخت نبی ته وحې ولیږله چې دغه دواړو ته له نوي عبادت کولو حکم ورکړي ځکه چې ما بدبخت بخښلي دي او د عابد اعمال مې برباد

کړي دي،په دویم روایت کې راغلي دي چې د وریځو تکړه د عابد له سر نه اوچته شوه،د بدبخت په سر باندي یې سیوري اوکړو.

دا دتکبر انجام وو چې عابد تکبر وکړواو خپل ځان یې لوي وګڼلو او هغه کس ته یې په سپک نظروکتل د هغه ټول نیک اعمال برباد اوختم شو.

الله جل جلاله دي مونږ ته توفیق راکړي چې په دغوخبروباندي عمل وکړواوتکبراولوي له ځانه لري کړو.امین.

**• د مور اوپلار حقوق**



ایت شریف((وَاعْبُدُواْاللَّهَ وَلَا تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَنًا))(النساء)

**ترجمه:** عبادت کوئ تاسو د الله جل جلاله او مه شریکوي له ده هیڅ شي او نیکي کوي له موراو پلارسره په نیکي کولو سره.

ابوعبدالرحمٰن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه ـ چې الله تعالی کوم یوعمل ډیر خوښ دي؟ نو وي فرمایل مونځ په خپل وخت کول ما عرض اوکړو د دي نه پس کوم یو عمل دي؟ نو وي ویل چې موراو پلار سره ښه سلوک کوه ما عرض اوکړو د دي نه پس کوم یو عمل دي؟ نو وي ویل د الله په لاره کې جهاد کول.

(بخاری ومسلم)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې یو سړي عرض وکړو ای الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د ټولونه ښه لایق او حسن سلوک څوک دي؟چې زه ورسره ښه سلوک وکړم )وي فرمایل مور،هغه عرض وکړو بیا څوک؟وي فرمایل مور،هغه بیا عرض وکړو څوک؟ ویي فرمایل مور،هغه بیا عرض وکړو بیا څوک؟ویي فرمایل پلار او په یو روایت کې داسي دي(چې د هغه کس د سوال په جواب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ستا مور، ستا مور، ستا مور او بیا د خپل پلار سره ښه سلوک کوه او بیا چې تا ته کوم نزدي خپلوان او عزیزان وي.

(بخاری ومسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسو الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هېڅ یو ځوي هم د خپل پلار احسانونو بدله نشي ورکولي مګر دي سره چې خپل پلار د غلامئ په حالت کي بیا مومي او احستو سره یي ازاد کړي.

(مسلم)

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په خاور کې دي خړه شي پوزه د هغه کس،خاور کې دي خړه شي پوزه د هغه کس،دا(الفاظ یي دري ځلي وفرمایل)صحابه کرامو عرض وکړو ای الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم څوک دي هغه کس)چې د چا په باره کې تاسو بد دوعا کوي ویي فرمایل هغه کس چې د چا مور او پلار دواړه یا یو له دوي نه ژوندي وي او حالت د بوډا والي ته ورسېږي او جنت ته داخل نشي(یعني د دوي خدمت ونکړي او جنت ورته لازم نشي.



(مسلم)

د حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړي عرض وکړو چې په اولاد باندي د مور او پلار څه څه حق دي ارشاد وشو مور او پلار ستا د پاره جنت هم دي دوزخ هم دي(یعني که ته دوي خوشخاله ساتي نو.دوي ستا د پاره جنت دي او که سرکشي تري اختیار کړي نو ستا د پاره جهنم دي.

(ابن ماجه)

عبدالله بن عمروبن عاص رضی الله عنهم نه روایت دي چې یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم خدمت ته راغي او وي ویل چې زه تا سره په هجرت او جهاد باندي بیعت کوم چې د هغي دا اجر أمید د الله تعالی نه کوم نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل آیا ستا مور او پلار کې یو کس ژوندي شته؟هغه وویل،هو دواړه ژوندي دي نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل آیا د الله تعالٰی نه د ثواب أمید لري هغه وویل هو بیا نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل مور او پلار ته واپس لاړ شه او د هغوي خدمت وکړه.

(بخاری مسلم)

د بخاری او مسلم په بل روایت کې داسې راغلي دي چې یو کس نبی کریم صلی علیه وسلم ته راغي او جهاد کې د شریک کیدو اجزت وغښتلو نبی کریم صلی الله علیه وسلم پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه چې ستا مور اوپلار ژوندي دي؟هغه وویل هو نبی کریم صلی الله عیله وسلم وفرمایل د هغوي خدمت کول ستا جهاد دي.

اسماء بنت ابوبکر رضی الله عنها نه روایت دي چې زما یوه مشرکه مور وه چې ماله د څه خواهش د پاره مکي نه مدیني ته راغلي وه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نو زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت ته خاضره شوم او عرض مي وکړ چې زما مور

څه غښتلو د پاره راغلي ده آیا زه د هغي سره څه ښه سلوک کولاي شم نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو هغي سره خپلولي وپاله.

(بخاری مسلم)

حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هرڅوک چې سبا کړي په داسي حال کې چې د الله جل جلاله د رضا د پاره د مور او پلار تابعداروي(یعني د الله جل جلاله د حکم مطابق د مور او پلار تابعدار وي نو د جنت دروازي ده دپاره خلاصي کړي شي که چري یو کس نافرمان وي (د وور یا د پلار)نو یوه دروازه د جهنم خلاصه کړي شي او هر څوک د دوي نافرماني کې سبا کړي نو د دوزخ دروازي د ده



د پاره خلاصي کړي شي،که چري په مور او پلار کې د یو کس نافرمانی کې سبا کړي نو د(جهنم)یوه دروازه د ده د پاره خلاصه کړي شي.

یو صحابی عرض وکړو ای د الله رسول صلی الله علیه وسلم که چري هغوي ظلم کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل که چري دوي ظلم کوي،که چري دوي ظلم کوي،که چري دوي ظلم کوي.

(بهیقي)

**تشریح:**د دي حدیث نه د مور او پلار د ادب او اطاعت ډیراهمیت معلومیږي مګر دومره ځان پوهول په کار دي چې د مور او پلار هر هغه حکم چې دونیاوي امورو سره تعلق لري نو د مور او بلار حکم لازم دي مګر دا خبره بیله ده چې یوه خبره د صلاح مشوري وي او د موراو پلار د حبري متبادل د هغوي په رضا رعبت وي ببا جایز دي او بله خبره دا ده چې هر هغه خبره چې دین سره تعلق لري نو هغي کې به د دین شرعي پابند وسئ اګر که مور او پلار دي نا راضه هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت عباس رصی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې هر یو فرمانبردار بچي چې د مور او پلار (مخ ته)د محبت په نظر وګوري نو د دي په بدل کې ورته الله جل جلاله د قبول شوي(نفلي)حج ثواب په عمل نامه کې لیکي صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړ که یو سړي سل(۱۰۰) کرته وګوري دا خو اسان کار دي ویي فرمایل هو ځکه چې الله جل جلاله ډېر لوي او پاکیزه دي (یعني د الله جل جلاله خزاني پر او معموري دي په ورکولو نه کمېږي.

(بهیقي)

**واقعه:**یوه ورځ حسن بصري رحمته الله علیه په بیت الله کې طواف کولو یو سړي یي ولیده چې د هغه په اوږو یو کیجاوه وه د بیت الله مبارک نه بي یي طوافونه کول حسن بصري

رحمته الله علیه ورته وویل ای وروره دا کیجاوه په ځمکه باندي کېږده او بیا د بیت الله مبارک طواف کوه دغه سړي ورته وویل چې ای د مسلمانانو امامه دي کیجاوه کې زما مور ده چې دا اووم(۷)کال دي چې زه خپله مور د شام نه په دي کیجاوه کې راولمه او د خج ټول ارکان پوره کوم او دوي په دي کجیاوه کې ناسته وي.

ای د مسلمانانو امامه!ایا ما د خپل مور حق ادا کړو حسن بصري رحمته الله علیه ورته وفرمایل چې ای وروره که ته خپله مور په دي کیجاوه کې د دنیا اخر ګوټ نه راولي او د خج ټول ارکان وربادي اداکړي نو ته د خپل مور هغه یو حق هم ادا نکړي چې ته د خپلي مور په خیټه کي یو خل اوړیدلي یي(یعني هغه خق چې چاته د مور په خیټه کې یومنټ تېر کړي دي



ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې جنت د مور او پلار د قدمونو لاندي دي که تا نه مور او پلار راضي وي نو جنت ته به لاړشي او که راضي نوي نو جنت ته نشي تللي.

### • د زوي په پلار باندي حقوق

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علی وسلم وفرمایل چې په موراو پلار باندي د اولاد دري حقونه دي.

۱)کله چې هغه پیداشي د هغه د پاره ښه نوم ایښودل.

۲)کله چې عقل مند شي نو هغوي ته د قرانکریم تعلیم ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳)کله چې د واده عمر ته ورسيږي(يعني د پنځلسو(۱۵)کالو چې شي نو واده ورته وکړي.

(تنبيه الغافلين)

په يو حديث کې ذکر دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې بېشکه په جنت کې يوه د روازه چې د هغه نوم (باب الفرح)دي،دي ته به هېڅوک نه داخليږي مګر هغه کس چې خپل اولاد خوشحاله ساتلي وي ځکه چې روايت دي چا چې د خپل اولاد اکرام وکړو نو الله جل جلاله به يي جنت کې اکرام وکړي رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي چې تاسو محبت وکړي خپل اولاد سره ځکه چې محبت د اولاد پرده ده،د اورنه،يعني دوزخ ته به نه ځي)او خوارک هغوي سره خلاصي دي داور نه او د هغوي اکرام کول تېردل دي د پل صراط نه.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دي چې يوڅو څيزونه د انسان د خوشبختی علامات دي

۱.چا چې جومات جوړ کړ،د هغي اجر به ورته مېلاوېږي تر څوچې يوکس هم پکښي مونځ کوي.

۲.چا چې نهر جاري کړو تر څو چې په هغي کې اوبه جاري وي او خلک يي تري څکي نو هغه ته به اجر مېلاوېږي.

۳.چا چې خايسته قران وليکلو تر څو چې دا ويل کيږي هغه ته به اجر مېلاوېږي.

۴.چا چې د اوبو د حصول د پاره چينه ويستله نو تر څو چې وي هغه ته به اجر مېلاوېږي.



۵.چا چې يو بوټي نال کړ نو تر څو چې حلک او مرغان ترينه ميوه خوري يا د سيوري نه يي ګټه اخلي هغه ته به اجر مېلاوېږي.

۶.چا چې اولاد صالح(يعني نېک اوعمله اولاد)پريښودل چې هغه د پاره د هغه نه ورسته د مغفرت دعا کوي يعني کله اولاد نېک وي پلار ورته قران او علم زده کړي وي نو د هغه پلار ته به اجر مېلاوېږي او د اولاد په اجر کې به هېڅ کمي نه راځي او.کله چې پلار اولاد ته د قران تعليم ور نه نکړي او.هغه ته يي د فاسقانو اوښودله نو د هغه وبال د هغه پلار باندي وي او د اولاد په اوبال کې به هېڅ کمي نه کيږي (يعني کوم اولاد چې د پلار د لاسه بي دينه عادت شوي وي نو اولاد چې څه ګناه کوي دومره به د پلار وي او د اولاد په ګناه کې به هېڅ کمي نوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**• د ګاونډي حق او هغه سره ښه چلند کول**

**١٢٢ـ** قَالَ اللهُ تَعَالىٰ:«وَاعْبُدُوا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا وَّبِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَالْجارِذِى الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَلصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيْلِ وَمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ»

**ترجمه:** د الله تعالی عبادت کوي هغه سره څوک شريک مه جوړوي مور او پلار سره نزدي رشته دارانو سره،يتمانو سره،مسکينانو سره،نزدي او لري ګاونډيانو سره، مجلس کې ناستو ياستو خلکو سره مسافرو سره او کوم چې ستا ملکيت کې دي هغوي ټولو سره د نېکي او اخسان سلوک کوې.(پ' نساء)

حضرت ابن عمر رضی الله عنه او حضرت عايشه رضی الله عنها نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې جبرائيل عليه السلام ما ته هميشه د ګاونډي سره د ښه سلکوک نصيحت کولو تردي چې ما ته داسي ښکاره شوه چې شايد ګاونډي به ميراث کې شريک کړي شي.

(بخاری او مسلم)

د حضرت حسن بصري رحمته الله عليه نه مروي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پو ښتنه وکړاي شوه چې ای د الله رسوله صلی الله عليه وسلم د ګاونډي په زموږ څه حق دي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې لس حقوق دي.

١.که هغه له تا نه قرض اوغواړي نو هغه ته قرض ورکړه.

٢.که تا راوبلي نو جواب ورکړه يعني د هغه خبره ومنه.

٣.که مريض شو نو پوښتني ته يي ورشه.



٤.که ستا نه مرسته يا مدد وغواړي نو مدد يي وکړه.

٥.که څه مصيبت ورته ورسي نو تسلي ورته ورکړه.

٦.که څه ښېګړنه ورته حاصل شي نو مبارکي ورته ورکړه.

٧.که مړ شي نو په جنازه يي کې شريک شه.

٨.که هغه نوي د هغه د کور او مال حفاظت وکړه.

٩.ته خپل پوخ شوي څيز سره هغه ته تکليف مه رسوه،مګر دا چې ته د هغې نه څه هديه کړي يعني د غه پوخ شوي څيزونه څه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰.خپل عمارات(يعني کور)هغه طرف ته مه اوږدوه مګر د هغه رضا مندئ د پاره که د هغه رضا وي بيا خيردي.

(الطبراني)

ابوذر غفارى رضى الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل اى ابوذره!کله چې ښوروا پخوي،نو اوبه په کې زياتي واچوه ـ او د خپل ګاونډي پکښي خيال ساته.

(مسلم)

ابوذررضى الله عنه نه بل روايت کې داسي عمل راغلي دي چې ما ته خپل خليل (ملګري)داسي وصيت او هدايت هم وفرمائيلو چې کله ښوروا پخوي ـ نو اوبه په کې زياتي واچوه بيا د ګاونډي د کور خيال ساتلو سره په مناسب اندازه کې هغوي ته هم ولېږه.

ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دي ـ چې نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ـ په الله مي د قسم وي هغه مؤمن نه دي ـ په الله مي دي قسم وي هغه مؤمن نه دي ـ په الله مي د قسم وي هغه مؤمن ندي ـ صحابه رضى الله عنهم عرض وکړو کوم سړي مؤمن نه دي؟نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ـ چې د هغه د شر او فساد نه د هغه ګاونډي په امن او خفاظت کې نه وي.

(بخارى اومسلم)

حضرت عائشه رضى الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله صلى لله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې زما دوه ګاونډيان دي دي کې کوم يو ته زه هديه ورکړم؟نو نبى کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د چا د کور دروازه نزدي وي.



(بخارى)

عبدالله بن عمر رضى الله عنهم نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې الله جل جلاله ته هغه خلک خوښ دي چې خپلو ملګرو سره ښه وي ـ

او الله جل جلاله ته هغه ګاونډي خوښ دي چې خپلو ګاونډيانو سره ښه وي.

(ترمذى)

ترمذى وايي چې دا حديث حسن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### • وعده پوره کول

حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه راويت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې منافق دري خبرو نه پژندلي شي -

۱.کله چې خبره کوي،نو دروغ وايي -

۲.کله چې وعده وکړي،نو نه يي پوره کوي -

۳.کله چې ورسره امنت کېښودل شي،نو په هغي کې خيانت کوي.

(بخاري اومسلم)

او د مسلم په يو روايت کې داسې هم شته چې اګر چې روژه ساتي مونځ کوي اخپل ځان مسلمان ګڼړي.

حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنهم نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل،چې په چا کې دا څلور خبري جمعه شي،هغه پوره منافق دي ـ او چا کې چې د دي څلور خويونو نه يو هم راشي نو پوشه چې د مناقق يو خوي د سړي کې ځای ونيولو- ترڅو يي چې هغه خوي پريښي نوي -

۱.کله چې ورته امانت وسپاري نو هغه کې خيانت کوي -

۲.کله چې خبره کوي نو دروغ وايي -

۳. کله وعده وکړي نو دهغي خلاف ورزي کوي -

۴.او کله چې جنګ کوي نوکنځل کوي.

(بخاري اومسلم)



حصرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي چې ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل،چې کله د بحرين نه مال راشي نو زه به تا له دومره،دومره،دومره او دومره درکوم مګر د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د مرګ پوري هغه مال را نغلو او کله چې د بحرين نه مال راغي،ابوبکررضی الله عنه حکم جاري کړ چې اواز دي ولګولي شي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په ذمه چې د چا څه قرضه وي يا يي چا سره وده کړي وي،نو هغه دي راشي او خپل حق دي واخلي نو زه د ابوبکر رضی الله عنه په خدمت کې خاضر شوم او ومي ويل چې ما ته رسول الله صلی الله عليه وسلم داسي داسي فرمايلي وو نو هغوئ يو لپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال را کړ۔ چې ما وشمارلي نو پنځه سوه (۵۰۰)درهمه وو۔ ابوبکر رضی الله عنه وو ویل،چې د دي نه په دوه چنده نور هم وا خله.

(بخاري اومسلم)

## • صبر

۷ـقَالَ اللهُ تَعَالَ((يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا‌ا صْبِرُوا وصَابِرُوْا))

**۷ترجمه:**الله تعالی ارشاد دي چې ای ایمان والو**!**په خپله هم صبر کوي – او مقابله کې هم صبرکوي.

(سورة اٰل عمران پ ۴ آية۲۰۰)

ابویحیٰ صهیب بن سنان رضی الله عنهم نه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دي چې د مؤمن معامله ډېره عجیبه ده چې د هغه ټول کارونه هغه د پاره د رحمت او خیر سبب دي او دا صفت پغیر د مؤمن نه بل چا ته نه نصیب ګېږي ګوري چې که هغه ته کله څه خوشخالي ورسېږي نو د الله تعالی شکر اوباسي او د شکر ادا کولو په وجه هغه ته ثواب او نیکي میلاویږي او که هغه ته څه تکلیف او غم ورسېږي نوپه هغي باندي صبر کوي داهم د هغه دپاره بنیګړه ده.

(مسلم)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم ابوزید اسامه بن حارث رضی الله عنه بیان کوي چې مورږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې خاضر وود یوي لور د طرفه یي پیغام او خبر راغي چې زما دزوي اخري سلګي دي تاسو لږ غوندي راشي نبی کریم صلی الله علیه وسلم جواب کې سلام وراولیږلو او وي ویل چې الله واخسته هغه د هغه وو او کوم چې هغه در کړي ووهغه هم د هغه دي او الله تعالی د هر یو څیز وخت مکرر کړي دي بس اوس صبر کوه او د الله تعالی د ثواب امید ساته لور یي بیا خبر ورا ولیږلو او قسم یي ورکړو چې تاسو



ضرر راشي بس رسول الله صلی الله علیه وسلم د مجلس نه پاڅیده او د هغوي سره سعد بن عبادت،معاذ بن جبل رض ،أُبی بن کعب رص،زید بن ثابت رض،او یو څو صحابه نور هم لاړو او ماشوم نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته راوړل شواو نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغه ماشوم خپله غیږ واچولو او دهغه روح په وتلو وواوبي ارمه وو په دي حالت لیدو سره نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سترګونه اوښکې رواني شوي حضرت سعد رض چې د نبی

(c) ketabton.com: The Digital Library

كريم صلی الله عليه وسلم سترګو نه بهيدلی اوښکي وليدلي نو عرض يي وکړ يا رسول الله صلی الله عليه وسلم تاسو هم ژاړي نو وي يي فرمايل چې زړه نرم کيدل دا الله تعالی په خپلو بنده ګانو باندي رحمت دي.

په يو بل روايت کې داسي دي چې الله جل جلاله چي چاته خوښه شي د خپلوبنده ګانونه،نو دهغه په زړه کې رحم پيداکيږي او الله تعالی هم په خپلو رحم دله او نرم زړو باندي رحم کوي.

(بخاری مسلم)

حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې الله تعالی فرمايي چې کله زه خپل بنده مؤمن نه د دنيا څه خوښ کړي شوي څيز واخلم او هغه پري صبر وکړي،نو هغه د پاره ما سره بغير د جنت نه بل څه نشته.

(بخاری)

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي،چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه د طاغون په بارکي پوښتنه وکړه نو وي فرمايل چې دا يو عذاب وو چې الله تعالی چې په چا نازلول غوښتل نو نازلول به يي ليکن الله تعالی د مسلمانانو د پاره رحمت جوړکړي دي نو دي

وجهي نه د الله تعالی يوبنده هم داسي نشته چې د دي مرض د نازليدو په وخت کې د غه ښار کې د صبر سره ايسار شي او د الله تعالی نه د ثواب طمعه لري اودا اوګنړي چې هر څه چې رارسي دا ټول الله تعالی د طرف نه دي داسي بنده ته د الله تعالی د طرف نه د يو شهيد برابر ثواب ورکولي شي.

(بخاری)

حصرت ابوعبدالرخمن عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم فرمايلي دې چې زما سترګو کې هغه ننداره مخ مخ تت کيږي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم په پيغمبرانو کې د يو پيغمبر ذکر کولو چې خپل کوم هغه اووهلو او په وينو يي رنګ کړو اوويني به يي د خپل مخ نه صفا کولي او دا به يي ويل چې ای الله! زما قوم معاف کړي ځکه چې دوي ناخبره دي او نه پوهيږي.



(بخاری اومسلم)

حضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه او حضرت اوبوهريره رضی الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه ارشاد بيانوي ـ چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسي مسلمان ته ستوماني،بيماري،خفګان،غـم،تـكليف،تردي چې ازغي يي په خپه كې مات شي مګر دالله جل جلاله به د دي په سبب دده ګناهونه اورژوي.

(بـــخارى اومسلـم)

حضرت مالک بن انس رضى الله عنهم روايت كړي دي چې رسول لله صلى الله عليه وسلم ارشاد وفرمايلو چې كلت چا ته مصيبت يا بيماري ورسي نو د دي په وجه د مرګ نه غوړاي كه نن نو دا دي وايي چې اى الله تعالى!كه ما ته ژوند ښه وي نو ما ژوندي وساتي ـ او كه زما د پاره مرګ ښه وي نو ما ته مرګ راكړي.

(بـخارى اومسلـم)

**• د ښځو باره كې د رسول الله صلى الله عيله وسلم ارشادات**

قَالَ اللهُ تَعالٰى:«اَلرِجَالُ قَوّمُوْنَ عَلَى النِسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللهُ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَا اَنْفَقُوْامِنْ اَمْوَالِهِمْ فَا لصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتُ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللهُ»

**ترجمه:** الله تعالى فرمايي ـ چې سړي د ښځو انتظار كونكې اوخيال ساتونكې ـ ځكه چې الله تعالى د دوي نه بعضي په بعضي نورو باندي غوره والي وركړي په سبب د دي چې خپل مالونه خرچ كوي پس نيک بخته ښځه تابعداري كوي او دالله تعالى په خفاظت سره د خاوند په غيري موجودي كي د هغه څيزونو او د فائدو خېال وساتي.

(پ ۵ ' نساء)

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ښځه چې پنځه وخته مونځ كوي،هغه درمضان شريف رژوي نيسي او د خپل عزت خفاظت اوساتي او د خپل خاوند تابعداري وكړي نو داسي ښځه جنت ته چې په كومه دروازه غواړي داخله دي شي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل اى ښځو! ما تاسو دوزخ كې ډېري ليدلي يي،ښځوپو ښتنه وكړه د دي څت وجه ده رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل،تاسو لعنت ټولو څيزونو باندي ډېراچوي (يعني لعنت ملامت او ښيري ډېري كوي)او د خاوند ناشكري ډېره كوي او د هغه در كړي شوي څيزنو ډېره بي قدري كوي.



معاذ بن جبل رضى الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل،چې دونيا كې كومه يوه ښځه چې خپل خاوند ته تكليف رسوي نو د جنت حورى هغي ښځي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي الله پاک دي تا برباده کړي خپل خاوند مه تنګوه دا خو تا سره يو څو ورځو ميلمه دي او ډېر زربه ستا نه جدا کيدو سره مونږ. له راشي.

(ترمذی)

امام ترمذی رح وايي دا حديث حسن دي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل الله جل جلاله هغه ښځه خوښوي چې خپل خاوند سره محبت او مينه وکړي او ډيردي سړي نه خپل خفاظت وکړي.

عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهم نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل دُنيا يو سامان دي او د دي سامان يوغوره حصه نيکه او ديندار ه ښځه ده.

(مسلــم)

دا رويت د ابوهريره رضی الله عنه دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې د هيڅ ښځي د پاره جايز نه ده ـ چې د خاوند په موجودي کې د هغه د اجازت نه بغير (نفلی)روژي ونيسي او نه دا جايز دي چې د خاوند د اجازت نه بغير د هغه کورته د داخليدو د پاره اجازت ورکړي.

(بــخاری اومسلــم)

عبدالله بن عمررضی الله عنهم نه روايت دي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې تاسو هر يو کس نګران او ذمه واردي او هر يو کس نه د هغه ما تحتو پوښتنه کولاي شي ـ بادشاه او حکمران هم ذمه وار دي او سړي هم د خپل اهل ذمن واردي او ښځه هم د خپل خاوند د کور او د اولاد خفاظت کولو او خيال ساتلو ذمه واره ده عرض دا چې تاسو کې هر يوکس نګران او ذمه وار دي او د هر ذمه وارد لاس لاندي چې څومره رعيت وي د هغي په باره کي به تري پوښتنه کولاي شي.

(بــخاری اومسلــم)

**• توبه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دي رسول الله صلی الله عليه وسلم نه داسي وفرمايل اوريدلي چې زما دي په الله قسم وي چې په ورځ کې د اويا وو۷۰ځلو نن زيات زه دالله نه معافي غواړم او توبه (هم)اوباسم.

(بخاري)

د رسول الله صلی الله عليه وسلم انصاری خادم حضرت ابی حمزة انس بن مالک رض فرمايلي دي،چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد دي چې د يوکس نه په يوه دشته او.صحراء کې خپل اوښ ورک شوي وي او هغه پيداشي نو دغه کس به څومره خوشخاليږي بس الله تعالی د دي نه هم زيات د خپل بنده توبه ويستلو خوشخاليږي.

(بـخاري اومسلــم)

د مسلم شريف په يو روايت ورسره داهم دي،چې الله پاک په دربار کې د يو بنده توبه او اسغفار کوي نو دالله تعالی خوشخالي په تاسو کې د هغه کس د خوشخالي نه هم زياته وي چې په ځنګل يا صحراء کې تري نه خپله سورلي ورکه شوي وي چې په هغي د ده د خوراک څکاک سامان بارکړي شوي وي او د ډير تالاش کولو نه پس ستومانه او نا اميده د يوي اوني لاندي سوری ته ډډه شي پس ناڅاپه هغه ډک بارکړي شوي اوښ خوا کې ولاړ ويني نو فورً د هغي رسي اونيسي نو د ډيري خوشخالي او دافکر د وجي نه اووايي چې ای پروردګاره!ته زما بنده او زه ستا رب يم ـ نو دا غلطي د ډيري خوشخالي د وجي نه وشي.

حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نه بيان کړي چې الله تعالی هره شپه خپل لاس مبارک خوره وي چې د ورځې څوک ګناه کونکي د شپي توبه

اوباسي دعه سي هره لاس مبارک خوره وي چې د شپې څوک ګناه کونکي د ورځې توبه اوباسي چې قبوله کړي شي (يعني د قيامت پوري داسي کوي بلکه) تر هغه وخته پوري چې لمر د مغرب نه را اوخيژي.

(مسلــــم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دي چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمايلي دي چې لمر د مغرب طرف نه د راختلو نه مخکي مخکي څوک الله جل جلاله ته د گناه هونو نه توبه اوباسي نو الله تعلى به يي توبه قبلوي.

(مسلـم)

حضرت ابو عبدالرخمن عبد الله بن عمربن الخطاب نه رايت دي چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د مرگ دا اخري غرغري نه لږ غوندي مخکي الله تعالى د خپل بنده توبه هم قبلوي.

امام ترمذى رح وايي چې داروايت حسن دي -

(ترمذى)

د حضرت ابو سعيد سعد بن سنان خدرى رض نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي تاسو نه مخکي تېر شوي قومونو کې يو کس يو کم سل ۹۹قتلونه کړي وو او خلکو نه به يي پوښتنه کوله چې د ځمکي په سر چرته يو لوي عالم فاضل شته که نه؟نو خلکو ورته يو راهب وښودلو هغه ورله لاړو او پوښتنه يي تري وکړه چې ما يو کم سل سړي وژلي دي زما د پاره د توبي څه گونجايش شته؟راهب وويل چې نه نو هغه قاتل هغه راهب هم قتل کړ او سلو کسانو ۱۰۰شميره يي پوره کړه بيا يي پوښتنه وکړه چې د زمکي په سر يو عالم شته؟نو يو عالم ورته چا اوښودلو هغه عالم له لاړو او ورته يي وويل چې ما سل کسان سړي وژلي دي زما د توبي د قبليدو څه صورت شته که نه؟علم ورته وويل چې ولي نشته ستا او د توبي تر منځ هېڅ منع کونکي څيز نشته ته فلانکي ځاي ته لاړشه هلته د الله تعالى څه بندگان دي،چې د الله په عبادت کې مشغول وي ته هم د هغوي سره د الله تعالى په عبادت کې مشغول شه او وطن ته د راگرځيدلو خيال قدري هم په زړه مه ساته(ځکه چې د بد کارانو مرکز دي) هغه سړي په هغه پته روان شو لاره کې روان وو چې مرگ ورته راغي،د رحمت او دعذاب د فرشتو خپل مينځ کې جگړه راغله چې روح به يي څوک قبض

کوي د رحمت فرشتو وويل چې زړه سره توبي ويستلو د پاره او الله تعالى سره د ميني کولو دپاره را روان شوي وو- مگر د عذاب فرشتو وويل چې دي سړي په ژوند کې هېڅ نيکي نده کړي د دي جگړي د فيصلي د پاره يوه فرشته د يو انسان په شکل هغوي ته راغله او هغوي دا ثالث مکرر کړ نو ثالث وويل چې زمکه ناپ کړي کومي زمکي طرف ته چې نزدي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم هغي کې شمار کړي ـ چې زمکه ک کړاي شوه،نو نيکانو خلکو طرف ته نزدي وه ـ بس د رحمت ملايکو د هغه روح قبض کړو.



(بــخاری او مسلــم)

صحيح بخاری کې بل روايت دي چې هغي کې نوره هم اضافه شته چي الله تعالی شريري زمکي ته وفرمايل،ته لري او اوړده شه او بهتريني زمکي ته يي حکم ورکړي شو، چي ته لنډه او نزدي شه دي پس د زمکي کچ کولو حکم ورکړي شو نو هغه سړي بهترينو خلکو او زمکي طرف يوه لويشت ته نزدي ووبس الله تعالی د دغه سړي مغفرت او بخښنه وکړه.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه او انس بن مالک رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل،چې که د ادم ځوئ(انسان)سره يوت کنده د سرو زرو نه ډکه وي نو بيا به هم د هغه ارمان وي چې داسي دوه نوري هم وي او د انسان خوله صرف خاوره ډکولي شي يعني قبرـ او الله تعالی د هر هغه کس توبه قبلوي چې څوک د هغه دربار کې توبه اوباسي.

(بــخاری اومسلم)

## • د مسلمانانوحقوق او په هغوي باندي شفقت اورحم کول

نعمان بن بشير رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې د مسلمانانو په خپلو کې يو بل سره مينه کول،يو بل باندي رحم کول او نرمي کول کولو معامله کې داسي مثال دي لکه بدن،چې د بدن په يو اندام باندي د بيماري اثر وي نو ټول بدن باندي د هغې اثروي او هغې ته تبه ولګي.

(بخاری او مسلــم)

جريربن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله هليه وسلم وفرمايل ـ څوک چې خلکو سره د رحم او مهرباني سلوک نه ساتي الله تعالی به په هغه رحم نه کوي.

(بحاری او مسلم)

عبد الله بن عمررضی الله عنهم بيان کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې مسلمان دمسلمان ورور دي هغه به نه په هغه زياتي کوي او نه به بې يارومددګار پريږدي کله پوري چې څوک د خپل مسلمان ورور خاجت پوره کولو پسي وځي الله تعلی د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاجتونه پوره کوي او څوک چې د مسلمان ورور نه د دنيا يو تکليف لرې نو الله تعالی به د ده نه د قيامت تکليفونه لرې کړي او څوک چې يو مسلمان ورور باندې پرده وچه وي نو الله تعالی به د قيامت په ورځ د ده په عيبونو پرده واچوي.

## ديني لارښونه ــــــــــــــــــــــــــــــ ۲۰

ابو هريره رضی الله عنه بيان کوي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه(۵)حقونه دي ـ

۱ـ د سلام جواب ورکول ـ

۲ـ که بيمار وي نو دهغه بيمار پوښتنه کول ـ

۳ـ جنازه کې کې يې شريکيدل يعني مونځ او دفن کيدلو شريکيدل ـ

۴ـ دعوت قبلول ـ

۵ـ د پرنجي جواب ورکول(يرحمک الله ويل که چرته هغه الحمدالله"ويلي وي.

انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې تاسو کې يو کس هم تر هغه وخته پورې مؤمن کيداي نشي تر څو پورې چې مسلمان ورور دپاره هغه څيز خوښ نکړي کوم چې خپل ځان د پاره خوښوي.

(بخاری اومسلم)

انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت دي د خپل ورور امداد کوي ـ که ظالم وي،او که مظلوم وي يوسړي وويل يارسول الله!د مظلوم خو به امداد وکړم ليکن که ظالم وي نو څنګه يې امداد وکړم؟نبی کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل،هغه د ظلم نه منعه کړه چې هغه د ظلم نه منع کول او بندول هم امداد دي کول دي.

(بخاري)

### •غيبت

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چاچې غيبت وکړو په خپل عمر کې يو ځل الله جل جلاله به ورته لس ۱۰عذابونه ورکړي ـ

۱ـ د الله جل جلاله رحمت نه به لرې شي ـ

۲ـ فرشتي به ختم کړي د عمل نامې د دنه نيک اعمال د ده ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ په وخت د مرگ کې د ده روح به ډېرپه سختي وځي ـ

۴ـ نزدي به شي د دوزخ اورته ـ

۵ـ او د جنت نه به لري شي ـ



۶ـ سخت به په دي کس باندي د قبر عذاب ـ

۷ـ ختم به کړي شي ثواب د نېک عمل د ده ـ

۸ـ ضرر به ورسولو روح د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په قبر کې ـ

۹ـ ځپل خالق یي په خپل ځان باندي عوصه کړو.

۱۰ـ په ورځ د قیامت کي به د حساب کتاب په وخت کي مفلس به راشي(یعني هېڅ نېک اعمال به ورسره نوي)ځکه چې نېک اعمال به یي په غیبت سره ختم کړي وي.

د علی ابن ابی طالب نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه فرمایلي دي چې تاسو غیبت نه ځان وساتي ځکه چې غیبت کولو کي پنځه۵ قسمه عذابونه دي ـ

۱ـ دا چې پورته به کړي شي د ده د مخ نه رڼایي  د صالحانو.

۲ـ دعا به یي نه قبلیږي ـ

۳ـ نېک اعمال به یي نه قبلیږي ـ

۴ـ په ورځ د قیامت کي مخ به یي شا طرف ته وي ـ

۵ـ دي به په اورکې فرعون اوشداد سره همیشه وي.

ابی سعید خدري رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زه په شب معراج کي په یو قوم باندي تېر شوم و  هغوي غوښي به پریکیدي او بیا او بیا به هغي نه ډوډۍ جوړیدي بیا به د هغو په خلو کي د ننه کیدي هغوي ته به یي ویلي کیده چې خوري دا خپلي غوښي څنگه چې تاسو په دنیا کې د خپل مسلمان ورور غوښي خوړلي ما د جبرائیل علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې دغه کسان څوک دي؟جبرائیل علیه والسلام وفرمایل چې دا ستا د امت غیبت کونکي خلک دي.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې تاسو پوهیږي چې غیبت څه شي دي،صحابوکرامو رضی الله عنهم عرض وکړ الله جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهیږي)ویي فرمایل غیبت دي ته وایي چې تاسو د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وورور مسلمان ذكر كوي په داسي اندازه كې چې كه چري هغه تري خبر شي نو نه يي خوښوي(يعني چې په كومه خبره مخامخ سړي خفه كيږي او تاسو هغه خبره شا په شا وكړي نو دا غيبت دي صحابه كرامو رضى الله عنهم عرض وكړ اى د الله رسول صلى الله عليه وسلم كه چري خبره چې مونږ يي كوو موجوده وي،ويي فرمايل كه چري هغه غيبت په هغه



كې موجود وي او تاسو يي د هغې په غېر موجود ګۍ كې بيانوي نو داغيبت شو او كه نوي پكې نو بيا تاسو په هغه بوهتان ولګول،بوهتان خو د غيبت نه ډيره زياته ګناه لري.

(رواه مسلم)

- **هر ښه كار په ښي لاس سره كول**

حضرت عائشه رضى الله عنها وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپلو ټولو كارونو كې اودس كولو كې ګومنز وهلو كې څپلۍ په پخو كولو كې ښي لاس او ښي طرف ښوښول.

(بخارى اومسلم)

حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه راويت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل كله چې تاسو كې څوک څپلي په پخو كول غواړي نو شروع دي ده ښي طرف نه كوي او كله چې څپلي وباسي نو ګس دي اوله وباسي د دي دپتره چې ښئ اول شي په خپو كولو كې اوپه ويستلو كې اخر شي .

(بخارى اومسلم)

حضرت حفصه رضى الله عنها فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به خوراک او سكاک او جامواغوستلو كې ښي لاس استعمالولو او نور كارونوكې به ګس لاس استعمالولو.

(ابوداؤد)

حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرامايل كله چې تاسو جامې اغوندي اوكله چې اودس كوي نو ښي طرف نه شرع كوي.

(ترمذى او ابوداؤد)

امام ترمذى رحمة الله عليه وايي،چې داحديث صحيح دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### • د لمونځ فضلیت

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به نفل مونځ تردي کولو چې ښپي مبارکې به یي اوپړسېدلي چاتري پوښتنه وکړه چې حضور صلی الله علیه وسلم تاسو ته خو الله جل جلاله د مخکې او وروسته ټولو ګناهونو د معافي زیري درکړي دي نو بیا ولي دومره زیات تکلیف په ځان تېروي نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې زه بیاه د الله جل جلاله شکر ویستونکي بنده جوړنه شم.

(شمائل ترمذی)



حضرت عبدالرحمن بن عمر رضی الله عنه فرمایي چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدي دي چا چې د مخوستن مونځ جمع سره وکړو نو نمیه شپه به یي په عبادت کې شمار شي که چیري دي سړي د سحر لمونځ وکړ نو ټوله شپه به یي په عبادت کې شمار شي.

(مسلـــم)

حضرت جابر رضی الله نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل د ټولو نه زیات ثواب د لمانځه هغه چاته میلاویږې چې کور یي د جومات نه لري وي او جومات د لمانځه د پاره د کور نه ځي.

(بخاري مسلم)

د حضرت عمران بن حسېن رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل لمونځ په ولاړه کوي او که د څه عذر د وجه یو سړي نه شي کولي نو بیا دي په ناسته لمونځ کوي او که په ناسته یي هم نشي کولي نو بیادي په ملاسته کوي.

(بخاري)

### • الله تعالٰی د رحمت بهانه لټوي

حضرت ابوذر رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل الله جل جلاله فرمایي کوم سړي چې یوه نیکي کوي هغه ته د هغه د صدق او اخلاص مطابق تر اووه سوه چنده بلکه د دي نه هم زیات ثواب ورکوم،کوم سړي چې څه بدي وکړي نو هغه ته د هغه بدئ برابر سزا ورکوم،کوم سړي چې د اطاعت او فرمانبرداري په ذریعه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویشت(یعني په کم مقدار سره)زما طرف ته راځي،نو زه یو گز د هغه طرف ته راځم(یعني د هغه توجو او توجهات ډېر زیات په هغه د خپل رحمت دوازي خلاصوم)کوم سړي زما طرف ته یو گز راځي، زه د هغه طرف ته د دواړو لاسونود خوړولو برابرورځم،کوم سړي چې زما طرف ته د خپل طرز سره راځي، زه د هغه طرف ته په منډه سره راځم او کوم سړي چې د زمکي برابر برابر هم گناه سره ما سره یو ځاي کیږي،په شرط د دي چې ما سره یي څوک شریک نوي جوړ کړي،یعني په شرک کې مبتلا شوي نه وي که زه وغواړم نو هغه ته به د زمکي برابر مغفرت وکړم.

مسلم.[اخرجه مسلم:۲/۴۷۰]

**• ټول گناهونه معاف کیږي**



ابو هریره رضی الله عنه وایي چې وفرمایل کوم سړي چې په یوه ورځ کې سل ځله سبحان الله وبحمدهِ اووایي نو د هغه گناهونه ختمیږي اگر چې هغه د دریاب د زگ برابر وي(یعني هر څمره زیلت ولې نوي.

بخاری مسلم.[اخرجه البخاری:۸/۱۰۷ومسلم:۲/۴۷۲]

**توضیح:** افضل او اولٰی هم د غه دي چې دا وظیفه سل ځله وویلي شي په مینځ کې فرق نوي لیکن علامه طیبي رحمته الله علیه فرمایي چې دا کلمات د سحر نه واخله تر ماښامه پوري په متفرق توگه باندي هم ویلي شي ټول گناهونه چې معاف کیږي د دي نه صغیره گناهونه مراد دي ځکه چې د کبره د دپاره د توبي ضرورت وي او کبایر صعیف کیږي لیکن که ورسره توبه هم وکړي شي نو بیا کبایر هم معاف کیږي په دي شرط چې د حقوق العباد نه نه وي.

**[الکاشف:۵/۷۷المرقات:۵/۱۲۵ـ ۱۲۴]**

**• دعا نه ضایع کیږي**

ابوسعید خدري رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کوم مسلمان چې څه دعا غواړي داسي دعا چې چې د هغه څخه د یو گناه دشي طلب نه وي او نه

د رشتي ماتولو نو الله تعالی جل جلاله هغه ته د هغه دعا په نتیجه کې د دریو څیزونو څخه یو شي ضرور ورکوي ـ

۱ـ یا خو زر دهغه مطلوب هغه ته ورکړي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ـ یا دا چې د هغه د پاره هغه دعا د اخرت ذریعه جوړه کړي(چې په دنیا کې د هغه مطلوب نه حاصلیدو په صورت کې د هغه په عوض کې په اخرت کې ورته اجر ورکړي)

۳ـ یا دا چې هغه د هغه دعا په قدر اندازه د بدئ څخه بچ کړي،صحابه رضی الله عنهم په دي اوریدو سره عرض وکړ چې یا رسول الله!صلی الله علیه وسلم اوس خو به مونږ ډیري دعاوي غواړو ځکه چې مونږ ته د دعاوو ډیري زیاتي فایدي معلومي شوي،حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې الله تعالی جل جلاله فضل ډیر زیات دي.

**احمد.[احرجه احمد:۳/۱۸]**

**• د نیکئی ارادي کولو سره ثواب میلاویږي**

ابن عباس رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل الله تعالی جل جلاله نیکي او بدي ولیکي(یعني فرشتو ته یي حکم ورکي چې هغه په لوح محفوظ کې د نیکیو او بدیو په باره کې دا تفصیل ولیکي)چې کوم سړي د یوي نیکي اراده وکړي،او په هغه



عمل ونکړي شي(یعني د ارادي باوجود د هغه د څه عذر په بنا د هغه نیکي په کولو باندي قادر نشي)نو الله تعالی جل جلاله د هغه دپاره د ځان سره په هغي ارادو پوره یوه نیکي لیکي،او کوم سړي چې د نیکي اراده وکړي،او بیا هغه نیکي وکړي،نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د ځان سره د لس چنده څخه تر اوو سوه چنده پوري بلکه د دي څخه هم زیاتي نیکي لیکي(یعني د خپلو بنده ګانو څخه د چا د پاره چې غواړي د خپل فضل او کرم سره د احلاص او د شرایطو او ادبو د ا دئیګی موافق د دي څخه زیات ثواب هم لیکي)او کوم سړي چې د څه بدئ اراده وکړي او بیا د (الله تعالی جل جلاله د خوف د وجي)په هغه بدئ اخته هم نشي،نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره د ځاڼ سره یوه پوره نیکي لیکي، او کوم سړي څه بدي اراده وکړي،او بیا په هغي بدي کې اخته هم شو،نو الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره یوه بدي لیکي.

**بخاري مسلم.[اخرجه البخاری:۱۲۸/۸ومسلم:۶۶/۱]**

**• ښکلي نصیحتونه**

حضرت ابوایوب انصاری رحمته الله علییه وایي،یوسړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې خاضر شو،او عرض یي وکړ یارسول الله،ماته څه نصیحت وفرمایه چې محتصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

او جامع وي،خضورصلی الله عايه وسلم ورته وفرمايل،هر کله چې ته لمونځ دپاره ودرېږي،نو دهغه سړي پشان لمونځ کوه،چې د الله نه ماسوا د هرشي يعني مخلوق او خپل نفس رخصتونکي او پريخودنکي وي،حاصل دا چې کله لمونځ کوې نو ټولي دنيا نه خپله توجه او خپل خيال ګرځولوسره کامل اخلاص او پوره توجو سره درېږه او د خپلي خولي نه دا سي خبره مه راباسه،چې د هغه په سبب تاته صبا ته د قيامت په ورځ د الله تعالی جل جلاله په خضور کې عذر کول راځي يا دا چې عذر خواهي مفهموم عموم باندي محمول دي،يعني څه داسي خبره د خولي نه مه راباسه چې چې د هغې په سبب تاته د خپلو دوستانو،ملګرو،متعلقينواو ټولو مسلمانانو مخکي پښيمانه کيدل راځي او د معذرت کولو ضرورت پيښ شي،اود هغه څيز نه د نااميده کيدو پخه اراده وکړه،کوم چې د خلکو په لاسونو کې وي يعني الله تعالی جل جلاله ستا په قسمت کې څومره ليکلي،او تا ته يي څه در کړي دي،په هغه قناعت او کفايت وکړه،او د خلکو مال او متاع سره خپل اميد مه تړه.

**[اخرجه احمد:۵/۴۱۲]**

**توضيح:**خضور پاک وفرمايل چې کله لمونځ کوې نو داسي په اخلاص سره يي کوه لکه چې دا ستا اخري لمونځ دي دويم نصيحت دا چې د ژبي نه داسي نا مناسب خبر مه اوباسه چې سبا د قيامت په ورځ د الله تعالی جل جلاله په مخکي يا سبا د خپلو دوستانو په مخکي عذرونه



پيش کې او خبره تله بيا يي کوه دريم نصيحت دا چې د خلکو د طرف نه بلکل نا اميده اوسيږه چې هغوي به تا ته روپيئی پيسي درکړي دي دپاره چې په حرص او لالچ کې پرينوځي.

**[المرقات:۹/۳۳۹]**

- **د لااله الله عظمت شان**

ابوسعيد خدري رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل خضرت موسی عليه والسلام عرض وکړ چې ای پروردګاره!ماته يو داسي شي راوښايه چې د هغه په زريعه زه تا يادوم،او ستا څخه دعا غواړم؟پروردګار ورته وفرمايل ای موسی عليه والسلام لا اله الاالله وايه،موسی عليه والسلام عرض وکړچې ای زما پروردګاره!ستا ټول بنده ګان(يعني موحدين)دا کلمه وايي،زه خو داسي شي غواړم چې زما دپاره يي محصوص کړي(چې په هغي زما هيڅوک شريک نوي)الله جل جلاله وفرمايل چې ای موسی عليه السلام!که اووه اسمانونه او زما څخه علاوه د هغه ټول اوسيدونکي(ټولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرښتي)او اووه زمکي په يوه پله کې کېخودل شي،او لااله الاالله يعني د دي ثواب په دويمه پله کې کېخودل شي نو يقينًا د دي ځيزونود تلي څخه به د لااله الاالله تله درنه وي.

**شرح السنة.[اخرجه شرح السنة:۵/۵۴]**

**توضيح:**الله تعالی د حضرت موسی عليه والسلام په زړه کې د الهام پت توګه دا واچول چې هغه دي داسي سوال وکړي چې په جواب سرت يي ټول خلک مستفيدشي نو الله تعالی په جواب کې د لااله الاالله عظمت او حقيقت واضح کړوچې د الله تعالی نه سوا ټول ځيزونه اوکيانات مکمل ډانچه که د تلي په يوه جابړې کې کېخودي شي او لااله الاالله په دويمه چابړې کې کېخودي شي نو داچابړي به دروند وي. **المرقات.**

**• د زړو نيکووالا دعا**

سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وايي (يوه ورځ)چې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وو حضورصلی الله عليه وسلم وفرمايل چې ايا په تاسو کې يو سړي په دي قادر دي چې هره ورځ زرنيکي حاصل کړي؟په مجلس کې موجوده صحابه ؤ رضی الله عنهم کې يو صحابي پوښتنه وکړه چې يا رسول الله صلی الله عليه وسلم په مونږ کې کوم سړي(روزانه په اساني سره)يو زر نيکي څنګه حاصلولي شي؟خضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې هغه دي سل ځله سبحان الله وو وايي،د هغه د پاره يو زر نيکي وليکل شي په دي حساب چې په هره نيکي باندي لس نيکي ليکل کيږي يا د هغه يو زر صغيره او که الله جل جلاجلاله وو غواړي نو کبيره ګناه رژل کيږي.

**(مسلم)**



**• په جنت کې ونې ولګوي**

جابر رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل کوم سړي چې سبحان الله العظيم وبحمده وو وايي د هغه د پاره په جنت کې د خرماوو ونه لګول کيږي.

**ترمذي.[اخرجه الترمذی:۵/۵۱۱]**

**• بهترين ذکر او بهترين دعا**

جابر رضی الله عنت راوي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل د ټولو څخه بهتر ذکر لااله اله الله دي او د ټولو څخه بهتره دعا الحمدلله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ترمذي ابن ماجه.[اخرجه الترمذی:۵/۴۶۲وابن جه:۲/۱۲۴۹]**

**• يوجامع حديث**

ابوذر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه حديثونو په سلسله کې چې حضور صلی الله علیه وسلم داالله تبارک وتعالی څخه روايت کول اوفرمايل چې

(يو حديث قدسي داهم دي)الله تعالی جل جلاله فرمايي چې ـ اي زمابنده ګانو!ما په خپل ځان باندي ظلم حرام کړي دي(يعني زه د ظلم څخه پاک يم)او ظلم زما په حق کې داسي دي،څرنګه چې ستاسو په حق کې ځکه ما ستاسو په منځ کې ظلم هم ظلم حرام ګرځولي دي نو تاسو په خپلو کې(يعني په يوبل باندي ظلم مه کوي)ای زما بنده ګانو!تاسو ټول ګمراه يي،علاه د هغه سړي څخه چې هغه ته زه هدايت وکړم،نو تاسو ټول زما څخه هدايت وغواړي،زه به تاسو ته هدايت کوم،ای زما بنده ګانو!تاسو ټول اوږي يي(يعني طعام مختاج يي) علاوه د هغه سړي څخه،په چا چې زه وخورم،او هغه ته د رزق وسعت او فراخي ورکړم(اويي مستغني جوړ کړم)نو تاسو زما څخه طعام(رزق وروزي) غواړي،زه به يي په تاسوخورم،ای زما بنده ګانو!تاسو ټول بربنډ(يعني د ستريوشي د پاره د جامو مختاج يي) علاوه د هغه سړي څخه چا ته يي چې ده اچولود پاره ورکړم،تاسو ټول زما څخه لباس غواړي،زه به تاسو ته لباس درکوم،ای زما بنده ګانو!تاسو اکثره شپه او ورځ خطاوي کوي او زه تاسو ته خطاوي بخښم،تاسو هيڅ کله ماته ضرر نشي رسولي،چې ماته فائده ورسوي(يعني په ګناه کولو سره بارګاه صمديت ته څه نقصان نشته او د طاعت کولو څخه څه فايده نشته،بلکه د دواړو نقصان او فائده يواځي تاسو ته رسيږي،مخي ته د دي تفصيل فرمايي چې)ای زما بنده ګانو که تاسو مخکي او ورستني انسان او جنات(يعني يو کيدو سره هم تاسو څخه د يو)پرهيزګار زړه په شان جوړ شي،نو دي سره زما په مملکت کې هيڅ زياتوالي



نکيږي(يعني که تاسو ټول دومره پرهيز ګار او نيک جوړ شي څومره چې يو سړي پرهيز ګار اونيک جوړيدي شي،مثلاً تاسو ټول خضرت محمد صلی الله علیه وسلم په شان پرهيز ګار جوړشي،چې د زمکي په مخ يو سړي هم دا سي باقي پاتي نشي،چې د هغه په ژونبهر د فسق او فجور او ګناه او معصيت لږ څه اثر هم وي،نو به سره زما په صلطنت کې او مملکت کې ادنی شان زياتوالي هم نه ګيږي)ای زما بنده ګانو!که تاسو مخکني او ورستنی انسانان او جنات(عرض ټول) يو ځاي کيدو سره يو بد کار زړه په شان جوړ شي(يعني تاسو ټول يو ځاي کيدو سره د شيطان په شان جوړشي)نو په دي زما د مملکت يو ادنی شي ته هم نقصان نشي رسيدلي،ای زما بنده ګانو!که تاسو مخکي او ورستي انسانان او جنات(عرض ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوځاي كيد سره)په يو ځاي ودريږي،او زما څخه بيا او غواړي،او زه هر يو ته د هغه د غوښتلو مطابق(په يو وخت او يو ځاي کې ورکړم، نو زما دا ورکول د هغه څيز څخه چې ما سره دي دومره کموي څومره چې يو ستن په سمندر کې لويدو سره (د هغه اوبه کموي)اى زما بنده ګانو پوهه شي زه ستاسو اعمال ياد لرم،او هغه تاسو دپاره ليکم،زه به تاسو ته د هغه پوره پوره بدله درکوم،نو کوم سړي چې خير تر لاسه کښي (يعني هغه ته دالله تعالى جل جلاله نيک توفيق حاصل شي او د خير عمل وکړي)نو هغه ته پکار دي چې هغه د الله تعالى

تعريف وکړي او کوم سړي چې د خير څخه علاوه ترلاسه کې(يعني د هغه څخه ګناه وشي) نو هغه دي خپل نفس ملامت کړي (ځکه چې د هغه څخه ګناه کيدل. دنفس تقاضى څخه وشو.

مسلم[اخرجه مسلم:۲/۴۲۹]

## • لاحول ولاقوة د ۹۹بياروشفاء

ابوهريره رضى الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل لاحوله ولاقوة الابالله،د يو کم سل ۹۹(دنياوي او اخروي) بيماريودوايي ده چې په هغه کې ادنى بيماري(دنياوي او اخروي غم دي.

**[اخرجه البيهقى]**

## • الله تعالى د استغفارپه وجه ډيرښه ورکوي

ابن عباس رضى الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل څوک چې استعفارپه ځان لازم کړي،نوالله تعالى جل جلاله د هغه د پاره د هري تنګى څخه د وتلو لاراوباسي،او هغه ته د هر رنځ او غم څخه نجات ورکوي،او هغه ته د داسي ځاى څخه (پاک او حلال) رزق ورکوي چې د هغه ځاي څخه يي ګمان هم نه کيږي،**احمد ابوداؤدابن ماجه[اخرجه احمد:۲۴۸/وابوداؤد:۲/۸۶]**



## • د درود ويلو فضليت

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايى چې کوم کس ما باندي يوځل درود ووايي الله جل جلاله په هغه لس رحمتونه راليږي.

[صحيح الجامع۲۰۱/۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبی علیه وسلم فرمايي زما قبر نه د ميلو ځاي مه جوړوي او په ما باندي درود ووايي تاسو چې هر چيري ياستي ستاسو درود ما ته را رسيږي.

[مسلم/۴۰۸]

نبی علیه وسلم فرمايي هغه انسان بخيل دي کوم چې د هغه مخکي زما نوم ياد شي او بيا په ما باندي درود ونه وايي.

[صحيح ابوداود:۱/۳۸۳]

## • د قرض حلاصونکي لپاره دعا

بَارَکَ اللهُ لَکَ فِیْ أَهْلِکَ وَمَالِکَ اِنَّمَا جَزَآءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالأدَاءُ.

**ترجمه:**برکت دي واچوي الله جل جلاله تا لپاره په اهل او مال ستا کې يقينا بدله د قرض ثنا ويل او ادا کول دي.

[صحيح ابن ماجه:۲/۵۵]

## • د روژه ماتي په وخت کې دعا

ذَهَبَ الظَّمَاُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوّقُ وَثَبَتَ الأَ جْرُ إ نّ شَآ ءَ الله

**ترجمه:**لا ړه تنده اولانده شو رګونه او باقي پاتي شو ثواب اشاء الله.

## • د خفګان او فکرمندي په وخت کې دعا

اَلَهُمَّ إ نِّیْ أَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيّنِ وَغَلَبَتِةِ الرِّجَالِ

**ترجمه:**يا الله زه پنا نيسم تا پوري د غم او د عاجزی نه او د سستئ او بيزړه توب او بخل او نه بوج د قرض او غلبی د خلکو نه.

[صحيح بخاری:۶۳۶۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله دې مونږ او تاسو ته په دې خبرو د عمل کولو توفیق راکړي.
پدې هیله چې دغه کتاب کې وړاندې شوي موضوعات د
خپل ژوند د رنګینولو لپاره په عمل بنه اختیار کړو
او د ژوند په هر راز حالت کې ځان
دغه اسلامي اوصولو ته تابع وګرځو.

**ومن الله توفیق:**

# له لوستلو مو مننه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**